# Pakhtunkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه


۲۰ مه ګڼه   ۱۹۹۹کال

Jahrg./vol:1999/13 nummer/ no: 20


**PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA**




**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN
PARTEI DER PASCHTUNEN Paschtunchwa/Afghanistan**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan**

**V.S.I.P / Responsible for contents**

**DR. KABIR STORI**
**RICHARDSTR. 5**
**50389 Wesseling - Germany**
**Tel.: 0049 2236 83463**

## Editorial Board /Redaktion د خپروني جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسېد) |
| Hedayat Bangash | هدایت الله خان بنګش |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزیز سرشار |
| Nasir Stori | نصیر ستوری اسپیزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړی |

**www.pashtoonkhwa.com**
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net



دلوی خدای (ج) په نامه


| سرلیکونه | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| باچاخان په جهان کښې ... | ډاکتر رحمت ربی زیرکیار | ۲ |
| دروم غونډه که د .... | مبارز ځاپی | ۵ |
| درحمان بابا او.... | دډاکتر علی احمد پوپل سره مرکه | ۱۱ |
| پښتانه د پېښ لیک .... | ګل غوټۍ کونړی | ۱۶ |
| پښتو ژبه | دارالمنان یوسفزی | ۱۸ |
| پښتانه (شعر) | عمر پاخون | ۱۹ |
| کابله (شعر) | ارباب بهاراحمد بهار | ۱۹ |
| دغنی خان په یاد | نسیم خان | ۲۰ |
| دپښتنی کلتور مرغلری... | استادرنګ‌ګل اریوبزی | ۲۱ |
| دخوشحالخان ختک دزوکړی د .... | | ۲۷ |
| شعر | سنګر | ۲۷ |
| دپښتنو / افغانانو نمائنده جرګه | محمد افضل خان | ۲۸ |
| زماځوانی ډول کوی (شعر) | ملنګ جان | ۳۰ |
| پریس ریلیز | | ۳۱ |


خپرونکي: د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

**Herausgeber**: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen
Paschtunchwa/Afghanistan
**Publisher**: Pashtoons Social democratic Party (PSDP)
Pashtoonkhwa/Afghanistan

**زمه وار**
**V.S.I.P.**
**Responsible for Contents**
ډوکتور کبیر ستوری
**Dr. Kabir Stori**
**Richard Str. 5**
**50389 Wesseling**
**Germany**
Tel.: 0049-2236/ 83463
Fax: 0049- 2236/ 841930

**Redaktion:**

| **Editorial Board:** | **دخپرونی جرګه :** |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علیخان محسود |
| Hidayat Bangash | هدایت بنګش |
| Mabariz Zapi | مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزیز سرشار |
| Abdul–Nasir Stori | عبدالنصیر ستوری |
| Gulgutai Kunarai | ګل غوټی کونړی |

ولس ژبه او فرهنګ هم په هغه ټولنه کې واکمنه ووسي، خو په خواشینی سره باید ووایو چې دافغانستان په تعلیمی فرهنګي اواداري ارګانونو کې د ډیره کي ولس دژبې پر ځای چې پښتو ژبه ده دیوه لږه کي ولس ژبه چې پارسي نومیږي واکمنه شوی هغه هم کله دپارسي کله د«دري »او کله د تاجیکي په نومونو، او په دې توګه دا کثریت ولس ژبه تر پښولاندې شوې او د محوه کیدو په درشل کې ودرول شوې ده ۰

کله چې په ملي جوړښت کې یو هیواددانسان دتن په څیر وګڼل شي نو دهغه له پاره ژبه هم دساه دریځ لري او څنګه چې دانسان په تن کې ژبه دپیژندګلوی او افهام او تفهیم په لیاره کې سترارزښت لري نو هم دارازېه یو هیواد کې هم ژبه د هغه هیواد په پیژندګلوی،ودې سوله اوسلامتیا کې دسترې برخې خاونده وي چې دغه برخه دهیواد په تن کې دساه په څیر دهیواددژوندي ساتلو ضامن ګڼل کیږي یانې ژبه دیوه هیواد ساه ده لکه څنګه چې ساه نه وي تن مړدی همداسې که ژبه نه وي هیواد هم مړدی دمثال په توګه: تر کومه مهاله چې روسیي اوفرانسې کې دهغوی ژبې واکمنې نه وي په نړی کې دغو هیوادونو کوم سترارزښت هم نه لاره. خو کله چې فرانسویانو او روسیانو په خپلو دربارونو کې خپلی ژبې واکمنی کړلی نو دهغه هیوادونو څخه هم خورا سترنړی واله ځواکونه جوړشول.

دپورتنی سریزې په رڼا کې دافغانستان له پاره په روم کې دافغانستان دپخوانی پاچااعلیحضرت محمدظاهرشاه دسولې هلې ځلې هم دهمدغو لاملونو او دې ته ورته نورولاملونوله امله لا له پخوا څخه دماتې په درشل کې ولاړ، لیدل کیږي په دی توګه چې:

الف- داعلیحضرت شخصي نیمګړتیاوي.

۱- سره ددی چې اعلیحضرت پر افغانانو څلویښت کاله پاچاهي وکوله خو دافغانستان دډیره کې ولس ژبه چې پښتو ده زده نه کړله.

۲- په افغانستان کې داعلیحضرت زعامت دژبې له پلوه نیمګړی ؤچې لاپسی نیمګړی دی.



۳- اعلیحضرت لا هم افغانانوته په پارسی ژبه خپل غږرسوی ۰

۴- داعلیحضرت په کور اودربار کې دپښتوژبې له پاره هیڅ ځای نه ؤچې لاپسی هم هیڅ ځای نه شته سره ددې چې هغوی ځانونه افغانان او په افغانانو کې درانې پښتانه بولي.

۵- داعلیحضرت کور او دربار لا اوس هم دپارسی ژبی او فرهنګ مرکز دی ۰

٦- اوسني افغانستان هغه پخوانې افغانستان نه دی چې اعلیضرت ورته په پارسی ژبه فرمانونه اواعلامیې صادرې کړي.

۷- په افغانستان کې داعلیحضرت بیا مطرح کیدل ددی مانا لری چې افغانستان دې بیا هم دپارسی ژبې او فرهنګ مرکز وګرځی کوم چې دپارسی ژبې او فرهنګ مرکز پارس دی، نه افغانستان.

۸ - داعلیحضرت په همدی اوسنیو غونډو اومجالسو کې هم پښتوژبې ته دا کثریت ولس ژبې په توګه ځای نه شته داځکه چې هغوی په خپله پرې نه پوهیږي.

۹ -داعلیحضرت دپلویانو ژبه هم پارسي ده کوم یو نیم که په پښتو وپوهیږي هغوی هم له هغو پښتنو څخه دي چې هیڅکله دپښتوژبې په سوچ کې نه ؤچې لا په پښتوژبه ګړیدل هم ورته بې فرهنګي ښکاریږي.

۱۰- داعلیضرت څلویښت کلنه پاچاهي هم هغه ته په میراث پاتې وه نه داچې هغه په خپله توره ګټلې وي. نوله دې امله نوموړی ته افغان ولس او افغاني ژبه اوفرهنګ هیڅ ارزښت نه لاره.

ب-داعلیحضرت دپلویانو سیاسي اوفرهنګي دریځ:

۱ -دشمال داتلاف اعمال په تیروڅو کلونو کې دافغانستان سره په دښمنی کې پلي شوي چې هغوی ئی دافغانیت او افغانستان سره ددښمنی په پوله ودریدلي دي. نو که څوک ددغو ځواکونو سره د ګډ کار هلې ځلې کوي، داپه دی مانا ده چې هغوی هم غواړي له افغانستان سره دښمني وکړي ځکه چې پر افغانستان باندې دشمال داتلاف واکمنی دافغانستان سره ددښمنی له امله د طالبانو له خوا په وسله واله غبرګون رانسکوره شوې چې د طالبانو په مقابل کې دشمال داتلاف



دااوسني پرله پسې مقاومت هم لا دښمنانه اووسله واله مقامت دی چې دافغانستان دبهرنیو دښمنانو په ملاتړ لاپسې داوم مومي که څوک ددغو دښمنو ځواکونو په ملګرتیا هغه هم داعلیحضرت تر سیوري لاندی وغواړي افغانستان ته دسولې په نامه غونډې جوړې کړي، نو دهغو غونډو به پایلامه څه وي؟

داخو روښانه خبره ده چې اوس اوس روم دشمال دښکتاریستانو دوروستیو سلګیو له پاره خورا اړمن ځای ګرځیدلی دی.

۲ - ځینې محافل او ځینې روڼ انده وګړي لا په سر کې ئي داعلیحضرت پلویان دشمال اتلاف ته دطالبانو مخالفې ټلوالې په سترګو ګوري اوهغوي دمخالفې ټلوالې په نوم یادوي۰ زما په اندد غه ګڼنه له بنسټه غلطه ده داځکه چې دمخالف اومخاصم تر منځ توپیر لاڅه چې یو اوږد واټن پروت دی مخالف هغه څوک دی چې لکه زما په څېر دطالبانو دواکمنی دچال چلندسره نظریاتي اختلاف ولري نه وسله واله جګړه ۰

دطالبانو له خواه دشمال داتلاف واکمنی په وسله واله قیام اوقهر امیزه توګه رانسکوره شوې چې دشمال اتلاف غبرګون هم غوښتلي دطالبانو واکمنی په وسله واله جګړه اودښمنانه عمل رانسکور کړی۰ داچې دشمال د اتلاف د واکمنی په مهال کی دهغوی ناوړه چال چلند او دښمنانه موخې بربنډې وی نو هغه مهال هر افغان حق لاره چې دهغوی پر ضدودریږي اووسله واله غبرګون وښیي مګر اوس چې دشمال اتلاف غواړي خپله ناروا او ظالمانه واکمنی بیا په وسله واله جګړه تر لاسه کړي دهغوی دغه غبرګون نه یواځې داچې مشروعیت نه لري بلکه دافغانستان دعالي ګټوسره دښمنانه ګڼل کیږي چې ددیموکراتیکونورمونو سره هم په روښانه توګه په دښمنی کې دوام مومي،نه په مخالفت کې ۰

نو په دې دلیل دشمال اتلاف په څرګنده توګه دطالبانو مخاصمه یانې دښمنه ډله ده چې هیڅ کله دطالبانو سره دګډ ژوند او ګډ کارموخه نشي لرلی. که هغوی ته دمخالفې ټلوالې نوم ور کول کیږي یا دمخالفې ټلوالې په نامه یادیږي،دا خو بالکل غلطه انګیره او ناروا عمل دی.



۳ - دپخوانی پاچا ځینې پلویان لکه چې اسناد هم موجوددي،دشمال داتلاف سره په یوه اتحاد کې راګډشوي، چې په دی توګه دوی هم دطالبانو مخالفین نه چې مخاصمین ګڼل کیږي. کوم چې مخاصم هیڅکله دخپل خصم سره دګډژونداوګډکار ګټورولاروچاروپلان نه دی لرلی او که لرلی ئي هم وي نه ئي دی وړاندې کړی.هر څه چې کاندی هغه ټول دخپل مقابل لوري دوژلو اودمنځه وړلو د پاره کوي.نو په داسې حالاتو کې که څوک له پخوانی پاچا څخه دافغانستان له پاره سوله روغه غواړي دابه زما په اندسراب په لورې تلل وي اوبس.

۴ -دغربي نړی لادغربي نړی په سر کې دامریکی روان سیاست څخه بریښي چې افغانان لا به ظاهرشاه مني لا به له ولږي مري. نوله دي امله ئي دبن لادن په بهانه پر طالبانو لا پر افغانانو اقتصادی بندیزونه لګولي دی.

دلویدیځی نړی په دغسې سیاسي چال چلند کې ظاهرشاه ته دسروزرودتورې بڼه ورکړله شوې ده،افغانان ئي که ومني هم پرې مري او که وئي نه مني اوبندیزونو سره دغری ووهی هم مري.نو دایواځې دافغانانو پرسیاسي پوهې اړه لري چې ځانونو ته دولږې مړینه غوره ګڼي که دسروزروتوره په خپلو خیټو کې منډي او ځانونه پرې وژني یا کومه بله لیاره ټاکي.

ظاهرشاه چې له کلتوري اړخه پارسي ژبې افغان دی لکه څرنګه چې نوموړي په خپل څلویښت کلنه پاچاهي کې دافغانانو له پاره دپارسی ژبې سوچه او ځوبده ټولواک و،بیا به هم دپخوا په څېر هماغه دنده په غاړه ولري اوافغانانو ته به وار په وار پارسی ژبه فرمانونه او اعلامیې خپروي اوپه دې توګه به افغانان دي ته اړبا سي څو پښتو هیره کړي اوافغاني ټولنه ټول په ټوله یوه پارسی ژبې ټولنه شي چې دغه کلتوري اوژبني مړینه هم دولږې له مړینې څخه خورا ګرانه لادښمنانه ده چې دتل له پاره دژوندانه له سیمې څخه دپښتون ولس دژوند ټغر دټولولو مانا ور کوي.

دپورتنیو کتنوله مخې هیله ده افغانان دافغانستان دعالي ګټو په پام کې نیولو سره دطالبانو دواکمنی دټېر مهال هغه کارونه چې دسولې وسلو ټولولو اودافغانستان دځمکني بشپړتیا په لیاره کې ئي کړي دي تائید او دلاپسې دواکمنی داوږدولو

الف: چی فارغ تحصیلان رښتیا لیاقت ولری.
ب: دیو مخصوص هدف لپاره دی تربیه شی ـ هغه هدف دا وو چی وزارت معارف او پوهنتون لپاره باید نفر تربیه شی.
ج: ددی هلکانو اعزام(لیږل) په نورو سکالر شیپونو او تیراژونو باندی اغیزه نکوی یعنی هغه پروګرام باید په بشپړ صورت تطبیق شی، په هغه کی تقلیل(کمی) پیدا نشی نو یو معین پروګرام جوړ شو او پوهنتون، وزارت مالیه، صدارت او کلتوری ریاست ته ولیږل شو( کلتوری ریاست یو ریاست وچی دمحصیلینو کاریه ئی اجرا کاوه)•

نو په ډیر تأسف سره باید وویل شی پس دهغی چی ما کابل پریښود دغه پروګرام تطبیق نه شو هغه باندی تنقیدونه شروع شول او په اصطلاح د دیموا کراسی په وخت کی دوزارتونو دطرف نه نوی پروګرام جوړ شو یعنی لیلیه مکتبونه یا کاملا لغوه شول او یا په هغوی کی په تدریجی صورت تغیرات پیدا شو چی زه دهغی نه خبر نلرم. پخوا دهغی چی زه وزارت پریږدم یو مکتوب می پوهنتون ته ولیکه چی خوټکی په هغی کی توضیع شوی دی: دپوهنتون محترم ریاست باید ملتفت وی چی ډیر فارغ تحصیلان دهغه ولایتونو نه چی پښتو درس لری کابل ته راځی په څو مسلو باندی باید ژر غور وشی:

۱ـ پروفیسر صاحبان چی معمولا خپل درس ګستسنر کوی نو هغه دی په پښتو او دری ژبو باندی ګستسنر شی.

۲ـ هغه محصلین چی ژبه ئی پښتو وی او دخپل امتحان پار چی په پښتو لیکی هغه دی دپروفیسر له طرف نه قبول شی.

۳ـ هغه پروفیسران چی په پښتو پوهیږی دهاغه محصلانو سره کومک وکړی چی په درس په بشپړ شکل وپوهیږی.

۴ـ مګر کوم شمیر فارغ تحصیلان چی د دولسم جماعت درس ئی په پښتو ژبه خلاص کړی وی( په شمول دخوشخال خان او رحمان بابا لیسو) او زیاتیری مشکل ئی باید رفع شی. پدی وخت کی زه دمعارف وزیر او دصدارت معاون ووم نو په هاغه وخت کی داسی مکتوبونو ته فرمان ویل کیده.



نو دبی خبره همکارانو له طرفه داسی نادرسته تبلیغات وشو چی دمعارف وزیر چی اوس دوزارت نه خلاص شو یو فرمان صادر کړیدی چی بی دپښتنو فارغ تحصیلانو څخه بل شخص دلوړو تحصیلاتو لپاره خارج ته ولاړ نه شی. زما تاجک، هزاره، شیعه او ازبک دوستان ماته راغلل او شکایت ئی کاوه چی ولی دری لغوه شویده نو ما هغوی ته وویل چی دا دمملکت خداداد یو بدعادت دی چی یو نفر چی د کار نه خلاص شو نو هغه پسی ناوړه او نادرسته تبلیغات شروع کیږی دا نامردان باید یو مکتوب په غور ولولی او حقایق پټ نکړی• ما ویل چی دتاسو دقناعت لپاره یوازی وړه جمله کفایت کوی چی وایم«فرضا» یو مسؤول شخص همداسی یو مفکوره ولری ایا هاغه شخص احمق کیږی چی خپلی نادرسته و ناحقه بی منطقه نظریه د فرمان په صورت رسمأ صادره کړی. دوی ته ما مکتوب ولوست ددوی قناعت په بشپړ صورت حاصل شو.



په عکس کی دچپ نه ښی ته: ښاغلی ډاکتر کبیر ستوری، ښاغلی ډاکتر علی احمد پوپل اودPSDPدخپرونودچارو مشر عزیز"سرشار"لیدل کیږی



# پښتانه د پیښ لیک په هنداره کی

(ګل غوټی کونړی)

دنړۍ دپیښ لیک په اوږدو کی دغه لرغونی ستر ټبر چی پښتون قام نومیږی دنړی دستر تمدون، مدنیت او کلتور لرونکی شمیرل کیږی دکندهار او اباسیند دغاړی ستر لرغونتوب، تمدون او مدنیت ددغه قام بی ساری ستره لرغونتیا په ګوته کوی. دلرغون پیژندنی په کیندلو کی دا راښکاره شوی ده چی دودانۍ او جوړښت لومړنی خښته د کورونو جوړولو پخی خښتی دکندهارا په لرغون کیندلو کی لاسته راغلی دی•

دنړی لرغون پیژندونکی داسی وائی چی: دلرغون پیژندنی علمی تحقیقاتو او پلټنو له مخی ښکاره شویده چی دبشریت او دنړۍ لومړنی ودانۍ دپر مختګ زړرمه دکندهار څخه پیل شویده او دکندهارا لرغونتوب ئی لومړنۍ ستره زیږنده ده• دکندهار، هډی او اباسیند دغاړی مدنیتو ورته لیک لوست وربښودلی دی او نړۍ د لرغونتوب دودانیو مورده. او همداسی دنړۍ دنورو سترو لرغونتوبونو او تمدنونو غوندی لکه دمصر، دجلر و فرات، اشوریان، فنقیان، یونانیان، رومیان او هندیان او پخوانی چینایان دلرغونتوب په اسمان کی ځلانده ستوري دی•

پښتانه دپیښ لیک په پاڼو کی یو توریالی جنګیالی، بهادر تورزن قام یاد شویدی، دی توریالی قام ته هندیانو څکه پټان قام ویلی دی چی پټان په هندی ژبه کی دبیړی هغه لرګی ته وائی چی لو په بیړۍ سره له خپلی دروند والی (وزن) پر هماغه لرګی باندی خپل دتګ لیاری مزی زغلوی•

دپیښ لیک په هر پړاو کی دغه ټبر ښکیلاکګرو ته غاښ ماتونکی ځوابونه ور کړیدی او تل ئی خپله باتوره لرغونی خاوره دپردیو دتیری او غلامۍ څخه ساتلی ده دغی توریالی قام لوی سکندر (سکندر مقدونی) ته دکنړونو په اسمار دره کی سخته ماته ور کړه ټپی (زخمی) دایران (توس) نومی سیمی ته ځان ورساوه او یونانی پیښ لیک پوهانو ددغه ننګیالی ټبر توره او میړانه په پوره رسمیت وپیژندله. همداسی دی تورزن ټبر چنګیزخان ته په بامیانو کی ستر دیادونی وړ غاښ ماتونکی ګذارونه ور کړیدی چی پښتني او ایشیائی پیښ لیک ئی ویندونکی دی او لومړی ئی دهغه دیکتاتور چنګیزخان دستر ګوتور لمسی وواژوه او چنګیزخان وحشی مغوله قبیله ئی ملاماتی د افغانستان باتوری لرغونی خاوری



څخه په ژړا وویستله. همداسی رازئی ګوډ تیمور ته هم په خپل وار سره سختی ماتی ور کړیدی. او انګریزانو استعمارچیانو ته ئی دپیښ لیک په هره شیبه کی داسی سخت ګذارونه ور کړیدی چی دپښتنی لیک پاڼی پری زرینی دی. ټول انګریزی فوځ ئی په خپله میړانه د ارنوی څخه نیولی تر میونده پوری تباه کړل چی یو ډاکتر برایډن ئی ژوندی پریښود• همدارنګه روسان ښکیلاکګر هم دلومړی ځل لپاره په منځنی اسیا کی داسی ستر ګذارونه دپښتون جنګیالی ولس له خوا وخوړل چی دپښتون قام توری او میړانی له کبله دمنځنۍ آسیا دروس داستعمار لاندی نور ګاونډی هیوادونه هم خپلواکه شو. روسان په دی لنډه موده کی دافغان ولس له خوا دومره وزوریدل چی په تاریخ کی چا نه وو ځورولی هغه پښتنو دستر بابا خوشحال خان ختک یو شعر را یاد شو چی وائی:

**لاتر اوسه ئی ماغزه په کرارنه دی چا چی ما سره وهلی سر په ټنګ دی**

دپښتون ټبر توره او میړانه په ټوله اسیا کی بله ډیوه ده. پښتون قام هر مهاجر قام ته چی زمونږ په خاوره راغلی دی ورور ویلی دی. په خپله خاوره کی ئی ورته په ډیره خوشحالتیا او دوروری په ژبه پناه ور کړیده. داچی کشمیری دی او که ترکمن دی. کلونه کلونه ئی پدغه خاوره کی دیو خپلواک او سیدونکی په نوم ژوند کاوه• راځی چی دوروری لاسونه سره ور کړو، راځی چی خپله دغه دنړی په نقشه کی ډیره وروسته پاتی ټولنه سمسوره کړو او دغه دروسانو دښکیلاکګرو دلاسه ویجاړه ورانه ټولنه بیا ودانه او غوړیدلی کړو.

دغه ټولنه چی افغانی لرغونی ټولنه یادیږی زمونږ اوستاسی دلټی او تنبلی له مخی وروسته پاتی ساتل شویده. او دنړی نورو بیدارو او زیار ویستونکو ولسونو غوندی مو په خپله خاوره کی نه ستړی کیدونکی خدمتونه ندی کړی څکه ټولنه او هیواد مو دپر مختګ پلو ته ندی رسیدلی. دسقاوزوی حبیب الله او د ګوډ ملا له خوا دامان الله خان غازی پر مختللی مترقی حکومت ړنګ شو• څه وشو؟ هیواد مو تر اوسه پوری وروسته پاتی هیواد شو. ولس مو په فقر او ولږه کښې کلونه کلونه وځوريد او ټولنه مو دتخنیک نوی تکنالوژی او ساینس له برخو څخه بی نصیبه شوه دنړی دوروسته پاتی هیوادو په نقشه کی افغانستان انځور شو. راځی ورونو چی حق ته حق واویو، ددی خاوری ریښتنی بچیان وپیژنو، په حقایقو ستر ګی پټی نه کړو، په خپل ګران هیواد کښې دتل لپاره سوله راولو، خپله پښتو ژبه لکه دنورو ژبو غوندی راژوندی کړو•

ترڅنګ دربدل دی او ددوستی لپاره له ماله تیریدل دی. په پښتونولی کی په ناموس ننګ په هر پښتون فرض دی، ځکه چې پدی ژونددود کی انسان ته تر ټولو زیات سپکاوی دهغه په ناموس تیری دی، نوځکه پښتون سر او مال ښندی خو ناموس ساتی دلته د سر او مال نه د تیریدنی په شمول ټولی هغه هلی ځلی چې د ناموس دساتنی لپاره کیږی ننګ بلل کیږی. په ناموس کی ښځه،(مور، ماندینه او خور)، شخصی ځمکه او دهیواد ملی خپلواکی او ځمکنی بشپړتیا شامل دی. پښتونولی نه یوازی پښتون دناموس په ساتنه مکلفوی بلکی دا هم ورښی چې دبل ناموس ته په درنه سترګه وګوری او دا درناوی د پښتنی اخلاقو بنسټ جوړوی . پښتانه د بل چا ناموس ته په درنه سترګه کتل دخپل ناموس دساتنی تر ټولو غوره لار ګڼی او وائی چې: په چا چې خپل ناموس ګران وی د بل ناموس ته په درنه سترګه ګوری. دخپل ناموس ساتونکی او دبل ناموس ته په درنه سترګه کتونکی ته د «اصیل» لقب ور کول کیږی. څوک چې اصیل نه وی «کچه» بلل کیږی او کچه ته په کلی او کوڅه کی په سختی هم دناستی ځای نه پیدا کیږی.

پښتون خپله ځمکه هم کلکه ساتی او چا ته په هغی باندی دتیری حق نه ور کوی. دځمکی رانیول او پلورل جواز لری او هم هر څوک کولی شی چې خپله ځمکه یو چا ته وبخښی. خو په زور دهغه دځمکی لاندی کول په خپل ناموس تیری ګڼی او په خپل ټول توان ددی تیری مخنیوی کوی، پښتانه دا عمل هم ننګ بولی. شاید همدا علت وی چې په کلو او بانډو کی ځنی خلک دخپلو ځمکو دملکیت سندونه نه لری، مالیه ئی دملک په نوم تحویلیږی خو ځمکه دحاکم نرخ سره سمه چې دچاوی، دهغه پاتی کیږی. هغه ننګ چې ننګیالی جوړوی او دپښتو شعر او ادب ئی په خپله هره پاڼه کی ستائی په هیواد ننګ دی، دخپلواکی دساتنی لپاره ملی غورځنګ دی او د تیری کوونکی په خلاف دخوشحال دتوری شرنګ دی.

**دافغان په ننګ می وتړله توره ننګیالی دزمانی خوشحال خټک یم**

چا چې زموږ داولس تاریخ لږ څه په غور لوستلی وی او یائی ددی اولس دتوری شرنګ په خپلو غوږو اوریدلی وی نو به حتماً په دی هم پوهیدلی وی چې پښتون په دوستی کی صادق دی، وروری ښه پالی په وعده وفا کوی، خو سر نه ټیټوی او غلامی نه منی.



سکندر دی که چنګیز، روس دی او که انګریز، هر یو په دی خاوره کی هیڅ ډول زور او وحشت دریغ کړی نه دی، خو پښتون ئی غلام کړی نه دی ځکه چې پښتونولی دهیواد خپلواکی ناموس ګڼی او پښتون مکلفوی چې په وطن ننګ وکړی او که نه بی ننګه کیږی او بی ننګه ته ددی قام په منځ کی ځای نه پیدا کیږی.

زمونږ ټللی ننګیالی داولس له منځه راوتلی دی، خپل ننګیالی اولس په جرګو کی دمشرانو په توګه ټاکلی دی. نو ځکه ننګیالی مشران په عین حال کښی اولسی مشران وی، ملی مشران وی، داولس په مټ تکیه کوی، په اولس نازیږی او دهغه په غوښتنو هم ښه پوهیږی، ننګیالیو نه یوازی تیری کوونکو ته دعبرت درسونه ور کول او هغه ئی له خپل ملکه شړلی بلکی دخپلواکی د ټینګښت لپاره داولسی ځواکمنی، ملی سوکالی ، فردی سرلوړی او ازادی په اهمیت هم ښه پوهیدل. له دی امله ویل کیږی چې انسانی کرامت، ټولنیز عدالت، دانسان اساسی حقوقو ته درناوی، فردی ازادی او داولس سوکالی په وطن باندی دننګ مهم اړخونه ګڼل کیږی.

ننګیالی په شخصی امتیازونو پسی نه ګرځیدل، داولس او وطن سره په مینه نه مړیدل، ځانونه ئی له چالوړنه ګڼل، هر څه چې ئی درلودل دوطن په لار کی ئی قربانول او اولس ته ئی دخدمت په لار کی ډیر ډیر زیارونه اوړ بړونه زغمل. میروس نیکه دشاهی لقب ونه مانه او دژوند تر پایه داولس مشر په توګه پاتی شو. احمدشاه درانی به دمینی نه دبیلتون په وخت کی ویل چې:

**دډهلی تخت هیرومه چې رایادشی زماد ښکلی پښتونخوا دغروسرونه**

خوشحال خټک هم خپله کامرانی داولس په خپلواکی، سوکالی او سرلوړی کی لیدله نو ځکه ئی ویل چې:

**په دونیا دننګیالو دی دادوه کاره یا به وخوری ککری یا به کامران شی**

دټولو ننګیالیو مشرانو نومونه په دی لنډه لیکنه کی لیکلی نشم او دکلام نمونه ئی هم دلته راوړلی نشم ځکه چې لست اوږدیږی او دومره زیات نومونه او کلامونه په دی لنډه لیکنه کی نه ځاییږی. حقیقت دادی چې هر ننګیالی مشر - لکه څنګه چې دمخه وویل شو داولس له منځه راوتلی او بیا داولس هر فرد زړه ته ورننوتلی او دټول ملت له خوا منل شوی دی. موږ ددوی له ننګه ډکی کارنامی او خاطری هیرولی نشو او نومونه



ئی له فکرونو نه ایستلی نشو. څوک چې پښتونولی په چوکاټ کی په وطن باندی دننګ په هکله یو څه لیکی نو دالنډی به حتماً په پام کی لری چې:

**که په میوند کی شهید نه شوی خدایږولالیه بی ننګی ته دی ساتمه**

په پښتوژبه کی بی شمیره لنډی ویل شوی دی چې ډول ډول موضوع ګانی ئی بیان کړی دی.

ادب پوهان رښتیا وائی چې دلنډیو ویونکی، زمان او مکان معلوم نه دی، ټاکلی وخت، ځای او ځانګړی شخص یا ډلی ته نه منسوبیږی او دپښتو شعر دا خوږه برخه د ټولو پښتنو شریکه فرهنګی پانګه ګڼل کیږی. داسی راته ښکاری چې دلنډیو په دی لوی رنګین سیلاب کی همدا یوه لنډی استثنا کوی او هغه دا چې دویلو زمان او مکان ئی معلوم دی او یوه خاصه ویونکی هم لری. څوک چې د پښتنو تاریخ او دپښتو شعر او ادب سره لږ څه اشنائی لری نو دملالی نوم به حتماً پیژنی .

دملالی حماسه یوه خیالی افسانه نه ده، خوب لیدل نه دی او کومه ایجادی قصه هم نه ده بلکی ژوندی تاریخی واقعیت دی، په ننګ کی دیوی خور اتلوالی ده او وائی چې دمیوند فتحه دهمدی اتلوالی برکت دی. ددی لنډی دویلو وخت هم کوم اختر نه دی، واده نه دی او دجونو میله نه ده او ځای د ګودر غاړه، دچکرونو سر دره او یا دهستو ګنی لویه بنګله نه ده بلکی دننګ عملی ډګر او په خاص ډول دمیوند تاریخی سنګر دی. دلته دمیروس او احمدشاه بچیان دزمریو په شان د ناموس نه ددفاع په سنګر کی جنګیدل او هر چالیدل چې شمیر ئی د دښمن له لښکرو ډیر کم و، وسله ئی ساده وه، خواړه او اوبه هم پوره نه ورسیدل . په غازیانو فشار زیات و، مقاومت لاروان و خو روحیه وروورو کمزوری کیده. او ضاع هغه وخت ډیره بحرانی شوه چې دملی مدافعینو بیرغچی ددوښمن په ګولی مخامخ په ټپر ولګیده، دی شهید شو خو بیرغ په ځمکه ونه لویده. ملالی دګولیو په باران کی بیرغ ته لاس واچوه، هغه ئی اوچت وساته او ور سره سم ئی ناره کړه:

**که په میوند کی شهید نه شوی خدایږو لالیه بی ننګی ته دی ساتمه**

کله چې غازیانو دخپلی ننګیالی خور داچیغه واوریدله نو لوړه، تنده، اوستړیائی له یاده ووتله، روحیه تازه شوه ددښمن په مورچل زورور یرغل پیل شو، تیری کوونکی مات شو



او افغان یو ځل بیا اتل شو. دتاریخ دا ځلانده پاڼه یو ځل بیا ثبوتوی چې پښتنی خویندی دننګ په چارو هم له ورونو وروسته نه پاتی کیږی او کله کله خو ننګ کی از مویل شوو ورونو ته هم د ننګ درس ور کوی.

ملالی دننګ سمبول دی او دا سمه ده چې پښتانه ورته دخپل تاریخ دوتلو ننګیالیو په ردیف کی ځای ور کوی او اتلوالی ئی ستائی، په هغی ویاړی همت او غیرت ته ئی داحترام سر ټیټوی. دا هر څه منو خو له ځانه داپوښتنه هم کوو چې ایا د ملالی په شان خویندو ته دوروڼو سره برابر حق ور کوو؟ که چیری په پښتونولی لږ څه پوهیږم نو وینم چې دلته دخپل منلی ژوند دود دیوه داخلی تضاد سره مخامخ کیږم. مخکی می وویل چې پښتونولی دستایلو ډیر څه لری خو ځان مطلق نه ګڼی او داهم منی چې د ژوند دود هم دانسانی هلو ځلو محصول او د تاریخ زیږنده ده نو ځکه به ډیرو او بنسټیز وښیګڼو سره سره دلته او هلته یو څه نمیګړتیاوی هم لری. له همدی امله انتقاد اوری یوازی بی ځایه درواغ، په درواغو تورونه او تهمتونه ردوی. دپښتو دامتلونه (ددرواغو مزل لنډدی، لمر په ګوته نه پټیږی) هم ښی چې پښتونولی حقیقت ته تر ځان ستایلو ارزښت ور کوی او پښتانه ګماری چې حق به وایی او حقیقت به لټوی. موږ هم له دی حکمه سرغړولی نشو او دا حقیقت پټولی نشو چې دخور ننګ ستایو خو دوروړ سره برابر حق نه ور کوو.

هسی خو ټول پښتانه دپخواراهیسی دربړونو په سل ګزه ژور کوهی کی پراته یو .له سواده محروم یو، وږی تږی او خواره واره یو . خو هر څوک په دی پوهیږی چې زموږ په ټاټوبی کی هم ښځه تر نارینه ربړیږی. که چیری کوم ښوونځی موجود وی نو زوی ورلیږو او لور په کور کی کښینوو. دلور او زوی، خور او ورور او دمیړه او ماندینی تر منځ تو پیر له همدی ځای پیل کیږی چې لور له زده کړی لری پاتی کیږی .

که څه هم ځنی استثنا ګانی شته دی خو استثنا قانون نه ګڼل کیږی او زموږ په ټولنی مسلط قانون دادی چې جونه په ښوونځی کی له زده کړی محرومو و، په دی توګه د راتلونکو ننګیالو استعداد ونه شنډوو، په حقیقت کی د خپل بدن نیمه برخه فلجوو او دخپلو لاسونو د ننګ او د ټولنیز پرمختګ علمی او فنی بنسټونه ورانوو ځکه چې د ښوونځی څخه محرومی جونه د کسب دزده کړی او تحصیل دچانس تر لاسه کولی

اوباسی اودی جرگی دانعقاد په انتظامی او دلستقبالیه کمیټو کښې مونږ سره دمشرانو په حیث شریک شی اؤ دا اهمه قامی فریضه په خپلو کوششونو سرته ورسوی • چونکه دا یو ډیر مهم کار دی په دی وجه دجرگی دانعقاد نیټه مونږ نشوی ټاکلی. دی سلسله کښې به مونږ ه دی ټولو مشرانو ته لیکلی عرضداشت وړاندی کوو او چې دهغی ځوابونه راشی، نو دهغی په رڼرا کښې به دجرگی دانعقاد تاریخونه مقرر شی.
په اخره کښې مونږ حکومت پاکستان او حکومت افغانستان ته داخواست کوؤ چه ددی قامی المیې دهوارولو په لړ کښې فوری طور گامونه واخلی چه دډیورنډ د کرښې دواړه طرف ته پښتون قام ته بغیر دپاسپورټ او کاغذاتو څخه دتګ راتګ اجازت ور کړی. او دواړه اړخونو افغانانو ته په تجارت ټولی پابندیانی لری کړی. ځکه چه دډیورنډ کرښه نه دا چې یو قام په منیځ بیل کړی دی بلکه یوه یوه قبیله او یو یو خاندان ئي په مینځ نیم کړی دی.

*محمد افضل خان*

*مرکزی صدر پښتونخوا قامی پارټی*

## زما ځوانی ډول کوی

زمـا ځوانی ډول کوی د پښتـونـوالـه سره — زه په پښتو او پښتونوالی باندی سر ورکـــوم
زمـائی ختـه لمده کړې دغیرت په اوبـو — بـی همتی لاژمه نه ده زما له شـانـه سـره
دوطن مینـه مې رودلی ده دمــور په شودو — اوس ئی خدمت ته یم حاضر له ټینګ ایمانه سره
دغیرت تـوره مې نـیـولی ده پـخـلپو اوږو — دسـربازی میدان له وړم توره له ځانه سره
روح مې په تن کښې اسوده وی استقلاله سره — زما ځوانی ډول کوی د پښتنوالـــه سره
په ژوندانه کښې چاله کله خپل سنگر ورکوم — زه په پښتو او پښتونوالی باندې سرور کوم
قربان قربان مې دا ځوانی شه زر کرت له وطن — خو د وطن دا استقلال دې ترقیا مت وی زما
زه "ملـنگ جان" به هله سیال شمه د سیاله سره — زما ځوانی ډول کوی د پښتـنـوالـه سره
مـبـارکی به خپل پردی ته په بستر ورکـوم — زه په پښتو او پښتنوالی باندې سـر ورکوم

(ملی شاعر ملنگ جان)



## پریس ریلیز

جرمنی: ۲۱ نوامبر ۱۹۹۹

جرمنی: د Presidential Secretariat of PSDP دفتر خبر: دپښتون سوشل ډیموکراتیک گوند (PSDP) مشر ډاکتر کبیر ستوری په روم کی دافغانستان د پخوانی پاچا محمد ظاهر خان له خوا رابلل شوی غونډه وغندله •
ستوری وویل: دهغه وخت راهیسی چی د طالبانو تحریک په افغانستان کی دځواک (قدرت) واگی په لاس کی اخستلی دی د ایران له خوا په مختلفو بڼو کی ددی نا کامه هڅه کیږی چی د مسعود او ربانی سره یو ځای د طالبانو په مقابل کی متبادل امکان پیدا کړی نو ددی هدف دپاره ئی یو ځای او بل ځای دغونډو او ډلو په جوړولو پیل کړیدی چی د افغانستان د پخوانی پاچا محمد ظاهر خان د نوامبر د میاشتی په ۲۲ نیټه د لوی جرگی د تیاری غونډه د همدی هڅو (کوششونو) د څنځیر کړی ده •
محمد ظاهر خان په ۱۹۱۴ ع کال کی پیدا شوی او په ۱۹۳۳ ع کال کی پاچا شوی او په ۱۹۷۳ ع کال کی د محمد داؤد خان له خوا د ځواک (قدرت) څخه لیری شوی دی او د افغانستان د پاچاهی څخه ئی رسمی استعفا کړی ده (چی د استعفا اسناد ئی ما سره موجود دی) ددی صلاحیت او واک نه لری چی لویه جرگه راوغواړی• لویه جرگه یوازی د هیواد (ملک) مشر چی هغه امیر المومنین ملا محمد عمر دی راغوښتلی شی •
ده وویل چی محمد ظاهر خان نژادی پښتون دی خو په پښتو نه پوهیږی او په خپله څلویښت کاله پاچاهی کی دده سیاست د ایران سره په دوستی ولاړ وو او د پاکستان د جوړیدو په وخت کی محمد ظاهر خان د ۱۴ کالو راهیسی په افغانستان کی واکمن وو چی د پاکستان سره ئی سفارتی تعلقات ټینګ کړل او پدی توگه ئی د پښتنو ویش پوخ کړ او د بلی خوائی ورسره دښمنی را اخستی وه چی دا دواړه کارونه د پښتنو د ټکولو او ویشلو دپاره وو ځکه چی د پښتنو په وحدت کی ده خپل قدرت ته زوال لیده • دا اوسنی هڅه ئی د ایرانی انډیوالانو په سپارښت د مسعود او ربانی سره یو ځای د پښتنو په ضد د دسیسی (توطیې) څخه بل شی نه دی •
ستوری په افغانستان باندی د ملگرو ملتونو (اقوام متحده) د امن د جرگی له خوا الگول شوی بندیزونه هم وغندل او وی ویل چی دا دریږو (ستونزو) د حل دپاره معقوله لار نده • ملگرو ملتونو ته پکار دی چی نور د حق څخه ستر گی پټی نه کړی او د طالبانو حکومت چی د کابل په شمول د افغانستان په سلو کی د نوی (۹۰) څخه په زیاته برخه کی ئی د سر، مال او ناموس امن راوستلی دی په رسمیت وپیژنی (تسلیم ئی کړی) او د هغوي سره د گډ کار او خبرو دلیاری د ربږو او ستونزو حل و گوری • یو اړخیز



بندیزونه دجگړی د اوږدوالی مانا لری او افغان اولس چی هسی هم اوږدی جگړې زړبلی او ځورولی دی نور هم لا پسی زړبی•
ده دی ته هم گوته ونیوله چی طالبانو ته اوس د قام او ملک زمه واری پغاړه ده نو د نوی عصر د تقاضو سره سم گامونه اخستل او د اسلامی عنعنی په خوا کی په ملی دود دستور ولاړه ډیر گوندیزی او لسولی ته پاملرنه د قام ارزو او د هیواد او منطقی د ټینګښت، ارامی او ابادی ښبه ده•

---

## دغنی خان په یاد ••••• د ۲۰ مخ پاتی برخه

دپښتون ځلمی مشر او ښسټ ایښودونکی غنی خان یو ډیر اړخیزه شخصیت وو لیکوال، شاعر، فیلسوف، مصور، انځورگر او سیاست مدار وو، او پدی ټولو برخو کی د بې ساری توان خاوند وو • غنی خان نه یوازی د پښتونخوا په دننه کښې د پوهانو او لیکوالانو پاملرنه ځانته را اړولی ده بلکه د پښتونخوا بهر پری هم ډیری لیکنی شویدی. غنی خان د شخصیت په هر اړخ باندی ډیرو خبرو ته اړتیا ده نو ځکه دغنی خان په ژوند، فکر، لیکوالی او فلسفی نور څه نه وایو اوده ته خپله وار ورکوو چې دخان په باره کښې څه وائي :

### غـنـی غـنـی ته

مــاوی یــار څه بی اندازه غـوندی ئـــی — ادب دی در کی کم زبان درازه غوندی ئـــی
قصه ده گډه وډه نه سم خان شوی نه ټوقی شوی — خو ته دی دوه پیازو کښې څه دری پیازه غوندی ئی
پټی دی وران ویجاړ دی او کړی وړی دی پولی — کری پکی گلـونه حُسن سازه غـوندی ئـــی
لینده دی ماته گوډه او شهل مهل دی غشــي — په وړی خیـتـه موړ او بی نـیـازه غوندی ئی
که رنگ وی که تراش وی که چاریته که بدله — په خپـله لار روان ئی بی اوستازه غوندی ئی
په مینه ئی مین او خدای ته پلار او جانان وائی — دا ځکه خو بـی تـوله بـی اندازه غوندی ئی

غنی خان د ۱۹۹۶ ع کال د مارچ دمیاشتی په پنځلسمه نیټه په پیښاور کښې په روغتون کښې ددی دنیا څخه ستر گی پټی کړی او د مارچ دمیاشتی په شپاړسمه نیټه په اتمانزو کی په خپله پلرنۍ هدیره کښې خاورو ته وسپارل شو. غنی خان که څه هم جسمانی ز مونږ نه بیل شویدی خو پښتنی نړی ته ئی دومره ارزښتونه پریښودلی دی چې تل به دده یاد تازه ساتي. روح دی ښاد وی




## که سپوره وي که پوره وي نو په شریکه به وي

﴾باچا خان﴿

**Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt.**
( Batscha Chan )

**Buttered or unbuttered bread will be common.**
( Bacha Khan )